څوک چې زمور په دې ديني امر (شريعت) کې نوښت رامنځته کړي چې له دې دين څخه نه وي، نو هغه (عمل) رد دی

له أم المؤمنين أم عبد الله؛ عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «څوک چې زمور په دې ديني امر (شريعت) کې نوښت رامنځته کړي چې له دې دين څخه نه وي، نو هغه (عمل) رد دی». او د مسلم په روايت کې راځي چې: «څوک چې داسې عمل وکړي چې زمور د امر (شريعت) مطابق نه وي، نو هغه (عمل) رد دی».

[صحيح دی] [البخاري او مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم بيانوي چې چا په دين کې کوم شی له ځانه جوړ کړ او يا يې داسې يو عمل وکړ چې له قرآن او سنت نه پرې دليل نه وي، نو هغه يې په خاوند مردود دی او الله جل جلاله ته د منلو وړ ندی.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/66514